DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

فراه
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په فراه ولایت کې د څښاک پاکې اوبه یوه نادره سرچینه ده. په انار دره ولسوالۍ کې یوازې څو کورنۍ د اوبو جوړو لاسي پمپو ته لاسرسی لري. دا چې د پاکو اوبو سرچینې نادرې دي کورنۍ دې ته اړ کېږي چې لرې ځاونو ته سفر وکړي ترڅو د خپل ورځني مصارفو لپاره پاکو اوبو ته لاسرسی ولري. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې دریو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني چوکاټ پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۱** ولسوالۍ وارزول شوې
**۳۷۵** کلي وارزول شول

**۲،۱۱۴**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۷۱،۱۰۴**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۰۰،۱۳۳**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۱۴،۳۷۴**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۸۵،۱۱۹**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱،۸۹۱**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۲٪)

**۴،۷۱۵**
راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۳ څخه ۱**
۳۳٪ کورنۍ ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري – فراه ولایت د هېواد په کچه ښوونځیو ته اړتیا څلورم لوړ شمېر لري

**۴ څخه ۱**
کس (۲۴٪ وګړي) په فراه ولایت کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا هم راستنېدونکی

**۲ څخه ۱**
کس په خاک سفید ولسوالۍ کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا هم راستنېدونکی

**۱۸،۲۶۹**
کسان په بالا بلوک ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۶،۸۴۰**
کسان په خاک سفید ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۷،۳۳۵**
کسان په بالا بلوک ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فراه | ۱۲۳,۱۳۵ | ۵۵,۷۱۴ | ٪۳۱ | ۱۳,۴۴۵ | ٪۸ | ۳۳,۱۱۱ | ٪۲۷ | ۴۲,۲۶۹ | ٪۲۴ | ۳۴,۷۳۵ | ٪۲۸ | ۱۷,۲۸۰ | ٪۱۴ |
| بکواه | ۳۸,۷۵۱ | ۱۶,۴۱۱ | ٪۳۰ | ۹,۷۳۸ | ٪۱۸ | ۱۴,۵۹۹ | ٪۳۸ | ۶,۶۷۳ | ٪۱۲ | ۹,۹۳۹ | ٪۲۶ | ۷,۲۶۰ | ٪۱۹ |
| بالا بلوک | ۷۸,۰۱۴ | ۲۹,۸۸۰ | ٪۲۸ | ۱۴,۲۵۳ | ٪۱۳ | ۸۳,۵۹۵ | ۱۰۷٪ | ۱۵,۶۲۷ | ٪۱۴ | ۲۲,۰۹۶ | ٪۲۸ | ۱۳,۲۲۸ | ٪۱۷ |
| خاک سفید | ۳۳,۱۰۶ | ۳۸,۹۲۹ | ٪۵۴ | ۱۵,۰۳۵ | ٪۲۱ | ۲۰,۲۰۶ | ٪۶۱ | ۲۳,۸۹۴ | ٪۳۳ | ۱۶,۶۵۱ | ٪۵۰ | ۸,۸۷۴ | ٪۲۷ |
| پشت رود | ۴۴,۳۹۸ | ۳,۱۳۰ | ٪۷ | ۷۱۷ | ٪۲ | ۱۵,۰۲۹ | ٪۳۴ | ۲,۴۱۳ | ٪۵ | ۳,۰۶۹ | ٪۷ | ۶,۲۶۵ | ٪۱۴ |
| قلعه کاه | ۳۳,۶۱۸ | ۷,۷۹۲ | ٪۱۹ | ۵,۳۶۹ | ٪۱۳ | ۷,۷۲۴ | ٪۲۳ | ۲,۴۲۳ | ٪۶ | ۲,۳۲۷ | ٪۷ | ۹,۳۳۱ | ٪۲۸ |
| شیب کوه | ۲۵,۵۳۵ | ۱,۴۲۴ | ٪۵ | ۱,۰۵۶ | ٪۴ | ۴,۴۳۵ | ٪۱۷ | ۳۶۸ | ٪۱ | ۱۹۷ | ٪۱ | ۷,۰۶۷ | ٪۲۸ |
| لاش جوین | ۳۰,۵۳۹ | ۲,۸۷۶ | ٪۹ | ۱,۹۵۴ | ٪۶ | ۴,۸۹۶ | ٪۱۶ | ۹۲۲ | ٪۳ | ۱,۴۱۸ | ٪۵ | ۴,۴۵۵ | ٪۱۵ |
| ګلستان | ۴۷,۳۴۷ | ۱۰,۲۵۹ | ٪۱۸ | ۷,۱۶۵ | ٪۱۲ | ۳۰,۰۶۳ | ٪۶۳ | ۳,۰۹۴ | ٪۵ | ۱۹,۹۸۱ | ٪۴۲ | ۷,۸۵۶ | ٪۱۷ |
| پرچمن | ۵۸,۳۸۲ | ۱,۶۸۲ | ٪۳ | ۱,۱۹۰ | ٪۲ | ۴,۹۵۵ | ٪۸ | ۴۹۲ | ٪۱ | ۲,۵۸۵ | ٪۴ | ۱,۵۵۵ | ٪۳ |
| اناردره | ۳۰,۴۱۲ | ۳,۱۴۰ | ٪۹ | ۱,۱۸۲ | ٪۴ | ۵,۸۵۰ | ٪۱۹ | ۱,۹۵۸ | ٪۶ | ۱,۳۷۶ | ٪۵ | ۱,۹۴۸ | ٪۶ |
| مجموعه | ۵۴۳,۲۳۷ | ۱۷۱,۲۳۷ | ٪۲۴ | ۷۱,۱۰۴ | ٪۱۰ | ۲۲۴,۴۶۳ | ٪۴۱ | ۱۰۰,۱۳۳ | ٪۱۴ | ۱۱۴,۳۷۴ | ٪۲۱ | ۸۵,۱۱۹ | ٪۱۶ |

*د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداره (*NSIA*) اټکل

سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰   د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



فراه د افغانستان یو له هغو ولایاتو څخه ده چې د طبیعي پېښو له امله ډېره ځپل شوې ده. د دې ولایت سیلابونو د کورونو او کرنیزو ځمکو د ورانېدو لامل شوي چې په دې توګه دې پېښو د ولایت ۴۱٪ نفوس دې ته ار کړی چې خپل ولایت د داخلي بېځایه شوي په توګه ولاړ شي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلاره

د بېځايه کېدونکو د تعقيب سيسټم د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقيب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبيله وي ډلو، کوچيانو او نړيوالو کارګرانو د نفوس، موقعيت او جغرافياوي تقسيماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سيمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بياځلي بېځايه کېدنه، د جمعيتونو شمېر، د زيانمنتيا کچه او اوليه اړتياوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کاركوونكو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کليدي معلومات وركوونكو سره د ډله ايزو بحثونو له لارې د کليو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سيمه ايز کارکوونکي د مستقيمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنيت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنيتي خطرونو له امله سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته سمارټ ټيليفونونه يا ټابليټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسيله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تاييد وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تری کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تاييد شوې نو د موبايلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقيم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بيا دا ډېټا يا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفيه او تاييد کېږي. دا دقيقه بياکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کيفيت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړني ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات يا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کليو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او يا ترې وتلي وي او د موخې ړو جمعيتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کليو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغلو او وتليو افغان وګړو په اړه د موخې ړو جمعيتونو لپاره په هغو کليو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کليدي معلومات وركوونكو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولايتونه ارزولي دي په راتلونکې کې به يوازې د کليو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کليدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کليو په کچه معلومات له کليدي معلومات وركوونكو څخه د ډله ايزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د خوسکتوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جندر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. که څه هم په فراه ولايت کې د کليدي معلوماتو وركوونكو له ډلې څخه يوازې ۱٪ يې ښځې وي.

**۲،۱۱۴**
کليدي معلومات وركوونكو سره مرکه ترسره شوه

**۲۴۶**
کليدي معلومات وركوونكي يا راستنېدونکي دي او يا هم داخلي بېځايه شوي (۱۲٪)

**۲۱**
ښځينه کليدي معلومات وركوونكي (۱٪)

**۸۸۵**
له کوربه ټولنو څخه کليدي معلومات وركوونكي (۴۲٪)


**۲،۰۹۳**
نارينه کليدي معلومات وركوونكي (۹۹٪)

**۳۰۰**
خوسکتوريزو او ټولنيزو خدماتو څخه کليدي معلومات وركوونكي (۱۴٪)


**۵،۶**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات وركوونكو اوسط شمېر

**۶۱۷**
له سيمه ايزو چارواکو څخه کليدي معلومات وركوونكي (۲۹٪)

د ډول پر بنسټ کليدي معلومات وركوونكي | فراه




د ډول او جنسيت پر بنسټ کليدي معلومات وركوونكي | فراه



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاراواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاراواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه فراه ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۸ کال پورې په تدریجي توګه راټیټ شوی. د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۴۵٪ کموالی ښيي خو په ۲۰۱۷ کال کې ۲۹٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۶۱٪ کموالی ښيي.

**۷۱،۱۰۴**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۱۸،۸۵۹**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۲۷٪)


**۵۸،۰۱۴**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۸۲٪)


**۵۲،۲۴۵**
ایران څخه راستنېدونکي (۷۳٪)


**۱۳،۰۹۰**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۱۸٪)


**۰**
غیر کاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي



# رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـۍ یا وسلـه والـو جګـړو، تاوتریخوالـی، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خوندیتـوب اندیښـنې او د طبیعـی پیښـو یا د انسان پـه لاس جـوړې شـویو پیښـو څخه د خوندیتـوب پـه موخـه خپلـو سیمو څخـه بېځایـه شـوي دي او ارزول شـوېو/ کوربـه ټولنو تـه تـللي او هلتـه ژوند کـوي.

**۱۰۰،۱۳۳**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۸۱٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۴۲،۲۶۹**
فراه ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۹٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۳۰،۱۶۴**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۳۰٪)

**۸۵٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | فراه





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | فراه





د ولسوالۍ پر بنسټ رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | فراه




د ولسوالۍ پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | فراه




رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | فراه




# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

پـه عمومـي توګـه فـراه ولایت لـه ټولټـال ۱۷۱،۲۳۷ راسـتنېدونکو او داخلي بېځایه شـویو ځخـه کوربـه تـوب کـوي چـې ۴۲٪ (۷۱،۱۰۴ کسـان) راسـتنېدونکي او ۵۸٪ (۱۰۰,۱۳۳ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانـدې جـدول کـې د فـراه ولایـت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زیاتـو بېځایه شـویو او راسـتنېدونکو راتـګ ځخه اغیزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د فـراه ولایـت ۳۷۵ ارزول شـویو کلیـو ځخه ۵٪) د ټول ولایت ۲۱٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو ځخـه کوربـه توب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتۍ پـر وړاندې چې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ ته شـوې حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محـدودې شـوې سرچینـې او کاري فرصتونـو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زیانمنـو کلیـو ځخـه ۸ کلي یـې پـه خـاک سـفید ولسـوالۍ کـې موقعیـت لـري او د دې جـدول ۴۱٪ (۲۲,۹۲۵) راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایه شـویو ځخـه کوربـه تـوب کـوي.

### ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالی | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | فراه | فراه | ۶,۸۸۲ |
| ۲ | دیوار سرخ | خاک سفید | ۴,۶۸۰ |
| ۳ | جیجه بالا | خاک سفید | ۳,۸۹۹ |
| ۴ | پیو | بالا بلوک | ۳,۵۵۱ |
| ۵ | ریک پایین | فراه | ۳,۴۸۸ |
| ۶ | کور غندي | خاک سفید | ۳,۰۴۱ |
| ۷ | واتر پمپ دیوار سرخ | خاک سفید | ۳,۰۱۱ |
| ۸ | شهرک مهاجرین | فراه | ۲,۹۷۵ |
| ۹ | اسحاق زی | فراه | ۲,۴۷۰ |
| ۱۰ | درآباد صفلی | فراه | ۲,۳۸۷ |
| ۱۱ | جزه پایین | خاک سفید | ۲,۳۶۸ |
| ۱۲ | شیخ لالا (شیخ لالا) | بالا بلوک | ۲,۳۰۴ |
| ۱۳ | رانج | خاک سفید | ۲,۲۵۴ |
| ۱۴ | گرجی تحصیل دار | فراه | ۲,۱۵۷ |
| ۱۵ | پس آب | بالا بلوک | ۲,۱۰۱ |
| ۱۶ | دهه نو | خاک سفید | ۱,۸۸۸ |
| ۱۷ | سنک زور پایین | فراه | ۱,۷۹۴ |
| ۱۸ | ننک آباد | خاک سفید | ۱,۷۸۴ |
| ۱۹ | دولت آباد | بالا بلوک | ۱,۵۷۵ |
| ۲۰ | وریا | بالا بلوک | ۱,۵۰۵ |
| | | مجموعه | ۵۶,۱۱۴ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | فراه





### ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| فراه | ۱۳,۴۴۵ | ۴۲,۲۶۹ | ۵۵,۷۱۴ |
| خاک سفید | ۱۵,۰۳۵ | ۲۳,۸۹۴ | ۳۸,۹۲۹ |
| بالا بلوک | ۱۴,۲۵۳ | ۱۵,۶۲۷ | ۲۹,۸۸۰ |
| بکواه | ۹,۷۳۸ | ۶,۶۷۳ | ۱۶,۴۱۱ |
| گلستان | ۷,۱۶۵ | ۳,۰۹۴ | ۱۰,۲۵۹ |
| قلعه کاه | ۵,۳۶۹ | ۲,۴۲۳ | ۷,۷۹۲ |
| اناردره | ۱,۱۸۲ | ۱,۹۵۸ | ۳,۱۴۰ |
| پشت رود | ۷۱۷ | ۲,۴۱۳ | ۳,۱۳۰ |
| لاش جوین | ۱,۹۵۴ | ۹۲۲ | ۲,۸۷۶ |
| پرچمن | ۱,۱۹۰ | ۴۹۲ | ۱,۶۸۲ |
| شیب کوه | ۱,۰۵۶ | ۳۶۸ | ۱,۴۲۴ |
| عمومي مجموعه | ۷۱,۱۰۴ | ۱۰۰,۱۳۳ | ۱۷۱,۲۳۷ |




د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)




د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې


دا هغـه افغانـان دي چې لـه يـوې ارزول شـوې سـيمې څخـه چې هلته يـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه يـوې بلـې سـيمې ته تـللي دي تر څو د وسـله والـو جګـړو، تاوتريخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـي، د خونديتوب انديښـنې او طبيعي پېښـو يا د انسـان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۲۲۴،۴۶۳** داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې


**۶۱٪** په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي

**۶۹٪** د کړکېچ له امله بېځايه شوي

**۳۱٪** د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي



د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځايه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوې سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پيښو له اغيزو څخه خوندي ووسي.


**۱۱۴،۳۷۴**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۵۹٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۵ څخه ۴**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۴ ولسوالیو ته راستانه شوي: فراه، بالا بلوک، ګلستان او خاک سفید (۸۲٪)


**۳ څخه ۱**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۳۰٪ کسان فراه ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | فراه




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنۍ بهير | فراه




د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانـان دي چې لـه يوې ارزول شـوې سـيمې څخه د هـر دليل، عامل او يا مـودې لپاره له هـېواد څخـه بهـر تـلـي او يـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځايه شـوي کډوال او هغه کسـان شـامليږي چې افغانسـتان يې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـې وي.


**۸۵،۱۱۹**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۱،۸۹۱**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۲٪)


**۷۰،۰۶۲**
ايران ته تللي دي (۸۲٪)

**۱۳،۱۳۱**
پاکستان ته تللي دي (۱۵٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | فراه





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | فراه





ترکيه او اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | فراه





د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سيمه | فراه




ايران ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | فراه




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهير | فراه



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | فراه | ۵۵,۷۱۴ |
| ۲ | خاک سفید | ۳۸,۹۲۹ |
| ۳ | بالا بلوک | ۲۹,۸۸۰ |
| ۴ | بکواه | ۱۶,۴۱۱ |
| ۵ | ګلستان | ۱۰,۲۵۹ |
| | **عمومي مجموعه** | **۱۵۱,۱۹۳** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بکواه | ۱,۴۷۳ |
| ۲ | فراه | ۱,۲۵۹ |
| ۳ | خاک سفید | ۱,۱۱۳ |
| ۴ | بالا بلوک | ۷۲۲ |
| ۵ | پرچمن | ۶۷ |
| | **عمومي مجموعه** | **۴,۶۳۳** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بالا بلوک | ۷,۳۳۵ |
| ۲ | خاک سفید | ۶,۱۵۴ |
| ۳ | فراه | ۱,۸۲۸ |
| ۴ | پشت رود | ۱,۰۸۲ |
| ۵ | ګلستان | ۱,۰۶۳ |
| | **عمومي مجموعه** | **۱۷,۴۶۲** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیایي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)


| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بالا بلوک | ۱۸,۲۶۹ |
| ۲ | بکواه | ۱۰,۵۶۷ |
| ۳ | خاک سفید | ۱۱,۳۵۲ |
| ۴ | فراه | ۱۱,۴۱۸ |
| ۵ | ګلستان | ۸,۵۱۴ |
| | **عمومي مجموعه** | **۶۰,۱۲۰** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بالا بلوک | ۱۹,۱۰۹ |
| ۲ | بکواه | ۶,۵۵۴ |
| ۳ | خاک سفید | ۱۶,۸۴۱ |
| ۴ | فراه | ۲,۸۹۵ |
| ۵ | ګلستان | ۷,۳۷۶ |
| | **عمومي مجموعه** | **۵۲,۷۷۵** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بالا بلوک | ۱۵,۸۲۸ |
| ۲ | خاک سفید | ۱۶,۸۴۰ |
| ۳ | فراه | ۱۲,۱۸۷ |
| ۴ | قلعه کاه | ۳,۰۷۹ |
| ۵ | ګلستان | ۴,۸۴۹ |
| | **عمومي مجموعه** | **۵۲,۷۸۳** |




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### داخلي بېځایه شوي او شدیداً د کار په لټه کې

۵۷ کلن جمال محمد د ۷ ماشومانو پلار دی چې څلور یې انجونې او درې یې هلکان دي. هغه اصلاً د فراه ولایت په ختیځ کې له یو کلي څخه دی. په ۲۰۱۶ کال کې وروسته له دې چې د هغه په ولسوالۍ کې جنګ پیل شو له هغه ځای څخه فراه ښار ته ولاړ. جمال او د هغه کورنۍ د ۱۰۰،۱۳۳ داخلي بېځایه شویو له ډلې څخه دي چې اوسمهال په فراه ولایت کې ژوند کوي.

وروسته له ۶ میاشتو څخه چې جمال محمد په فراه ښار کې د کار په لټون کې وه او د خپلې کورنۍ سره په یوې خیمه کې ژوند کاوه او د ګاونډیو له خیرات سره یې ژوند پر مخ وړه هغه بلاخره د څارویو یو فارم کې دنده ترلاسه کړه. د فارم مالک هغه ته اجازه ورکړه چې خپل اته کسیزې کورنۍ سره د فارم دننه یوې ختېنې کوټې کې ژوند وکړي.

اوسمهال جمال وایي چې د هغه د ژوندانه شرایط ډېر خراب دي. د هغه کورنۍ په بده توګه یوې وړوکې او نا خوندي کوټه کې ژوند کوي. سربېره پر دې هغه پیسې چې هغه د خپل له کار څخه ترلاسه کوي د هغه د کورنۍ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره بسنه نکوي. هغوی زیاتره وخت یوازې دومره پیسې پیدا کولای شي چې د سحار، غرمې او شپې خوراک لپاره یوازې یو پارچه ډوډۍ له چای سره ولري. د دې ټولو سربېره جمال د کورنۍ یوازنینی غړی دی چې عمر یې د کار کولو ایجاب کوي. هغه دا خپل لوی مسوولیت ګڼي چې د خپل د کورنۍ د ژوند شرایط ښه کړي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.


جمال محمد د څارویو فارم کې په یوې ختېنې کوټې کې کار کوي. هغه په ډېرو ستونزو کولای شي د خپل د کورنۍ د ملاتړ لپاره خوراکي توکي واخلي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي
Canada
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره